مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ دريمه | د ۲۰۱۹ د جون ۲۴مه | دریم کال|۳۹۲مه ګڼه


هېواد
۴ مخ

## میانمار

د دغـه هېـواد ۷۲ سلنه خلـک د کرنـې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۴۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم لـه همدغـه سکټور څخـه لاس تـه راځي.



## د ممبۍ له نندارتون څخه افغانستان د ۷۵ میلیونو ډالرو په ارزښت قراردادونه ترلاسه کړي دي



د افغانستان د کرنیزو محصولاتو نندارتون، چې د هندوستان په ممبۍ ښار کې جوړشوی و، د ۷۵ میلیونو ډالرو په ارزښت د قراردادونو او ژمنو په تر لاسه کولو سره پای ته ورسېد.
د کرنې وزارت د ویاند اکبر رستمي په خبره، اټکل دا و چې افغان سوداګر به په دغه نندارتون کې د ۳۰ میلیونو ډالرو په ارزښت توکي وپلوري، خو د دویمې ورځې تر پایه چې د نندارتون د پای ورځ وه، په دغه نندارتون کې د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د پلور په پار د ۷۵ میلیونو ډالرو په ارزښت قراردادونه او ژمنې تر لاسه شوې دي.
ښاغلي رستمي زیاته کړې، د هغو توکو له ډلې چې په ممبۍ کې نندارې ته وړاندې شوي وو، طبي نباتات لکه انجې «هنګ» او شیرینبویې تر ټولو ډېر وپلورل شول. د دغه وزارت د چارواکو په خبره، هندي سوداګر تر ډېره د افغانستان محصولات د دې لپاره خوښوي، چې ښه کیفیت لري.

## د ولسي جرګې معترض نوماندان:
# که ولسي جرګه خپله ستونزه حل نه کړي، موازي پارلمان اعلانوو



۳

### د داعش په اړه پوښتنې او اندېښنې چې باید ځواب شي
۲ مخ

### د پردې ترشا ډیپلوماسي ولې د افغانستان لپاره مهمه ده؟
۲ مخ

### د امریکا – ایران تر ممکنه جګړې لاندې افغان سوله!
۳ مخ

## لاريون کوونکي: افغان ځواکونه د طالبانو په نوم عام خلک وژني

د بلخ ولایت اوسېدونکي وايي، افغان ځواکونه د طالبانو په نوم عام خلک وژني او د خپلو کورونو پرېښودو ته يې اړ کړي دي.
د دغه ولایت د بلخ ولسوالۍ اوسېدونکو چې د مزار ـ شبرغان لویه لاره یې د ترافیکو پرمخ تړلې وه، ویلي چې په تازه پېښه کې د لوېې لارې ساتونکو ځواکونو په بازار کې دوه ماشومان وژلي او دوه نور يې ټپيان کړي دي.
ځایي اوسېدونکو ویلي، افغان ځواکونو او وسله والو طالبانو جګړه ملکي سیمو ته راوړې او د دوی ورځنی ژوند يې تریخ کړی دی.
هغوی له حکومته غوښتي چې د دې پېښو مخه دې ونیسي او هغه کسان چې د مخالفینو په نوم عام خلک وژني، په نښه او د قانون منګلو ته يې د وسپاري.
دوی خبرداری ورکړی چې که قاتلین ونه نیول شي، نو خپلو اعتراضونو ته به دوام ورکړي.
که څه هم د افغان امنیتي ادارو چارواکو ویلي، چې د ملکي وګړو د ژوند خوندیتوب ته جدي پام کوي، خو په دې وروستیو کې د جګړې پر مهال د ملکي وګړو د وژل کېدو پېښې په پرله پسې ډول تکرارېږي.
که څه هم تر دې وړاندې په بېلابېلو ولایتونو کې د ملکي مرګ ژوبلې د ډېرېدو له کبله اعتراضونه شوي، خو د جګړې ښکېلې خواوې لا هم پر دې نه دي توانېدلې چې د ملکیانو د خوندیتوب لپاره کوټلي ګامونه واخلي.

## تولې خواوې د سولې خبرو د ګړندیتوب غوښتنه کوي




۲ مخ

## لویه ځارنوالی: حاجی رسا، متهم اختلاس ۶۰۰ میلیون افغانی وزارت داخله آزاد شده‌است



لویه څارنوالی می‌گوید که این نهاد، حاجی رسا، پیمان‌کار وزارت داخله را که یکی از متهمان اختلاس ۶۰۰ میلیون افغانی در وزارت داخله است، با ضمانت آزاد کرده‌است.
حاجی رسا که مالک شرکت تأمیناتی «شجاع آبدره» است، در حدود یک ماه پیش همراه با بیست تن دیگر به اتهام اختلاس ۶۰۰ میلیون افغانی در خریداری گوشت برای وزارت داخله، بازداشت شدند. جمشید رسولی سخن‌گوی لویه څارنوالی می‌گوید که حاجی رسا به دلیل پیچیده‌گی در پرونده‌اش و نیز محدودیت‌های قانونی در زمان توقیف او، آزاد شده‌است. وی افزوده است: «توقیف و نظارت افراد و اشخاص در قوانین در یک معیاد مشخص پیش بینی شده. به نظر څارنوال مؤظف، بهتر بود این شخص [حاجی رسا] از توقیف رها باشد تا ما بتوانیم تحقیقات خود را در زمان مناسب تکمیل کنیم تا تمام ابعاد قضیه روشن شود». چگونگی بررسی دوسیه‌های بزرگ اختلاس مانند این پروندهٔ میلیونی و آزادی حاجی رسا، یکی از متهمان اصلی از چنگ پولیس پرسش برانگیز شده‌است. صفی‌الله هاشمی، عضو مشرانو جرگه گفته است: «نفر مجرم که بازداشت و زیر تحقیق گرفته شد، رها کردن این افراد درست نیست».
در عین حال مسعود اندرابی، سرپرست وزارت امور داخله می‌گوید که آزادسازی حاجی رسا به معنی برأت او نیست و بررسی‌ها به‌گونه جدی ادامه دارند. وی افزوده است: «به این معنا نیست که آن‌ها [حاجی رسا] متهم نیست و این قضیه بند شد؛ این قضیه ابعاد وسیع دارد، شما می‌توانید از پیشرف این قضیه پیگیری کنید».

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019


Easy English Learning
+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـځ

## د داعش په اړه پوښتنې او اندېښنې چې بايد ځواب شي

په داسې حال کې چې د افغان کړکېچ د سوله ییز حل په اړه له طالبانو سره د امريکايي ډيپلوماټانو د مذاکراتو اووم پړاو پيلېدونکی دی، په افغانستان کې د داعش د فعاليتونو د پراختيا په اړه اندېښنې په ډېرېدو دي. د داعش تر نامه لاندې په افغانستان کې د وسله والو د فعاليت له پيل راهيسې د دې ډلې په تړاو ځينې اندېښنې او پوښتنې شته، چې بايد ځواب شي. په لومړيو کې چې کله د دې ډلې تر نامه لاندې وسله والو د هېواد په ځينو سيمو، په ځانګړي ډول ختيځ ولايت ننګرهار کې فعاليت پيل کړ، ويل کېدل چې دا وسله وال د داعش د هغې ډلې غړي نه دي چې په عراق او سوريه کې يې د ابوبکر البغدادي په مشرۍ د خلافت اعلان کړی و. وروسته ځينو سياستوالو افغان دولت له دې ډلې پر ملاتړ تورن کړ. کله چې طالبانو د داعش له وسله والو سره نښتې پيل کړې، دې ډلې هم ادعا وکړه چې د امريکا په مشرۍ په افغانستان کې مېشت بهرني ځواکونه او دولت د داعش ملاتړ کوي.

طالبانو تازه ادعا کړې چې امريکايي ځواکونو د چورلکو په وسيله د داعش هغه جنګيالي ژغورلي، چې وسله والو طالبانو په کونړ کې محاصره کړي وو. طالبانو تر دې وړاندې هم څو ځله ويلي چې له داعش سره د نښتو پر مهال، د امريکايي ځواکونو له لوري د هغوی پر وسله والو هوايي بريدونه شوي دي.

د داعش په اړه نه يوازې له افغانانو؛ بلکې د سيمې له هېوادونو سره هم اندېښنې شته. روسيه د بېلګې په توګه دې وسله والې ډلې ته د لوېديځ د يوې توطيې په سترګه ګوري، چې غواړي پر مټ يې تاوتريخوالی منځنۍ آسيا ته ولېږدوي. د روان کال په (مې) مياشت کې د روسيې د امنيتي خدماتو د فدرالي ادارې مشر وويل، چې د افغانستان په شمال کې د داعش د وسله والو شمېر دوه چنده شوی دی. پر روسيه سربېره، ايران هم په افغانستان کې د داعش د فعاليتونو په اړه اندېښنې لري.

د افغانانو لپاره هم د داعش د فعاليتونو دوام او پراختيا د پوښتنې وړ ده. کله چې داعش په لومړيو کې په افغانستان کې فعاليت پيل کړ، د افغانانو له ارزښتونو سره د هغوی د باورونو د ټکر له کبله يې د پراختيا فرصت نه ليدل کېده. پر دې سربېره، دلته د طالبانو په څېر د يوې نسبتاً ځواکمنې وسله والې ډلې د شتون په صورت کې، چې د امريکا د شمېرو له مخې نږدې پر نيمايي افغانستان حاکميت کوي، د داعش د پراختيا امکان ډېر نه و. له دې سره سره، دا وسله واله ډله وتوانېده چې خپلو فعاليتونو ته دوام ورکړي. ځينې افغانان له دې هم وېرېږي چې ښايي د طالبانو سپين بيرغ پر تور بدل او په دې ډول به دا ملت د څو نورو لسيزو لپاره هم د ترهګرۍ قرباني شي. په افغانستان کې د داعش د فعاليتونو او د پراختيا په اړه ډېرې پوښتنې او اندېښنې شته چې بايد امريکا او نور لوېديځ ملاتړي يې ځواب کړي.

## د پردې ترشا ډيپلوماسي ولې د افغانستان لپاره مهمه ده؟



لیکنه: مشتاق رحيم

په نړۍ کې هيوادونه د خپلو سياسي او ډيپلوماټيکو موخو د لاسته راوړلو لپاره له بېلابېلو تګلارو کار اخلي. که رسمي ډيپلوماسي تر ډېره بريده په معلومه او ښکاره بڼه تر سره کېږي، د ډيپلوماسۍ ډېرې نورې طريقې دي چې هيوادونه يې پر مټ خپلې ډيپلوماټيکې موخې پالي. له دغه ډول ډيپلوماسۍ ماډلونو يو هم د پردې تر شا ډيپلوماسي ده. دا ډول ډيپلوماسي په پټه، له مطبوعاتي پوښښ څخه لرې او د ولس له سترګو پنا وي او يوازې د حکومت د لومړيو حلقو خلک پرې خبر وي. ډېری وخت دا ډول ډيپلوماسي د هيوادونو د شريکو ملګرو او خواخوږو په واسطه تر سره کيږي، کله کله هم سوداګر، اکاډميک شخصيتونه او يا هم نامتو څيرې دا چاره مخ ته وړي. دا ډول ډيپلوماسي تر ډېره بريده په داسې حالاتو کې تر سره کيږي، چې د هيوادونو ترمنځ اړيکې شلېدلي وي او په دغه حالت د مخامخ خبرو امکان ډېر کم وي. دا ډول ډيپلوماسي داسې مهال هم تر سره کيږي چې هيوادونه د ډيپلوماټيکو ښکېلتياوو پر برې باندې ډاډه نه وي او د ډيپلوماټيکو هلو ځلو د ناکامۍ په صورت کې د بېلابېلو اقشارو لخوا د پيغور او يا هم توند غبرګون له خطر سره مخ وي. د پردې تر شا ډيپلوماسي ډېری وخت د پياوړو هيوادنو لخوا له خپلو هغو مخالفينو سره چې په ځواک او سياسي اغيز کې کم خو مخالفت يې ژور وي، کارېږي.

په معاصره ډيپلوماسۍ کې د پردې تر شا ډيپلوماسۍ يا پټې ډيپلوماسۍ ځينې بېلګې شته، په داسې حال کې چې کيدای شي د دغه ډول ډيپلوماسۍ سلګونه داسې تمرينونه هم تر سره شوي وي، چې د مثبتو پايلو د نه ورکولو له کبله همداسې پټ پاتې شوي وي. د پټې ډيپلوماسۍ يا پردې تر شا ډيپلوماسۍ تر ټولو ستره او عصري بېلګه د امريکا او ايران ترمنځ د اټومي وسلو د جوړولو په اړه تړون کې ليدل کيږي. د ياد تړون په اړه لومړي بحثونه د امريکا د باندنيو چارو وزير جان کيري او د مسقط سلطان قابوس ترمنځ په ډېره چوپه چوپتيا پيل او مخ ته يوړل شول. د امريکا حکومت د سلطان قابوس په واسطه له ايرانيانو سره غير مستقيم اړيکې ټينګې کړې، څو د تهران پر اراده، نيت او مذاکرې ته پر چمتووالي باندې پوه شي. همدا وو چې د سلطان قابوس په مرسته پيل شوې لومړنۍ اړيکې د دې لامل شوې، چې دغه مذاکرات رسمي بڼه خپله کړي او د (P۵+۱) هيوادونو ترمنځ تړون (JCOPA) باندې تمام شي.

د پردې ترشا ډيپلوماسۍ يوه بله معاصره بيلګه د پاکستان او هند حکومتونو ترمنځ هم شته. د ۲۰۱۷ ز کال په لومړيو مياشتو کې هندي سوداګر سجن جندال د پاکستان مري ښار کې د ياد هيواد د هغه مهال صدراعظم نوازشريف سره په پټه وليدل. دا ليدنه هغه رنګ چې په پلان کې وه چې په پټه تر سره شي، پټه پاتې نه شوه او پاکستاني مطبوعاتو دغه غونډې ته پراخ پوښښ ورکړ او د نوازشريف د دغه ډول ليدنې په اړه يې خورا ډېر شکونه را پورته کړل. که څه هم صدراعظم نوازشريف او د هغه د کابينې غړو دغه ليدنه د دوو شخصي ملګرو ترمنځ دوستانه ناسته وبلله؛ خو د مطبوعاتي راپورونو له مخې دا ناسته د پاکستان نوازشريف او د هند صدر اعظم نريندرا مودي ترمنځ د غير رسمي خبرو اترو بهير و.

همدا راز د شمالي کوريا ولسمشر کم جونګ اون او ډونالډ ټرمپ ترمنځ د تير کال ناسته هم د پردې تر شا د ډيپلوماسۍ پايله وه. په ياده قضيه کې جنوبي کوريا د آسانچاري دنده مخ ته وړله او دې دواړو هيوادونو ترمنځ يې ريباري کوله. د جنوبي کوريا د هلو ځلو موخه دا وه چې د ياد هيواد ستراتيژيک ملګري امريکا او په سيمه کې ترې جلا شوي جغرافيې، چې اوس ورسره دښمني لري، اړيکې را سمې شي او له دې لارې د چين د مخې ډپ کولو لپاره يوه چاره وسنجول شوي. همدا راز، دغه بهير چې لا هم روان دی، د دې لامل کيدی شي چې د دوه کوريا ګانو ترمنځ دښمني او تربګنې پر ګډ سوله‌ییز ژوند کولو بدله کړي.

د تيرو اتلسو کلونو په اوږدو کې افغانستان هم د پردې تر شا د ډيپلوماسۍ چاره پر کار اچولې ده. په دې لړ کې تر ټولو فعاله ډيپلوماسي د پخواني ولسمشر حامد کرزي د کاري دورې پر مهال له ايران سره په منظم ډول مخ ته وړل شوې ده. دا چې د افغانستان ستراتيژيک ملګري هيواد امريکا له ايران سره ورانه وه، نو دغه هيواد تل هڅه کوله چې د ايران او افغانستان ترمنځ اړيکې ډېرې فعاله نه وي. خو دا چې ايران د افغانستان ګاونډی او په سيمه کې يو مخکښ لوبغاړی دی، ولسمشر حامد کرزي اړينه ګڼله چې ورسره اړيکې وپالي او په چارو کې د غير رسمي ډيپلوماسۍ پر مټ همغږي ولري.

همدا راز پاکستان هم له افغان حکومت سره وخت ناوخت د پردې تر شا ډيپلوماسۍ هڅه کړې ده. خو دا هڅه ډېرې وخت هغه مهال شوې ده، چې دې دواړو هيوادونو ترمنځ ډيپلوماټيکې اړيکې ترينګلې وې. په دې لړ کې پاکستان تر ډېره بريده پښتانه قام پال سياستوال افغان حکومت ته جرګه کړي، څو اړيکې بيرته ورغوي. د پاکستان د قام پاله سياستوالو له لارې د اړيکو ټينګولو سياست په تيرو دورو کې خورا بريالی ثابت شوی او افغانستان ډېری وخت له دغه ډول د پردې ترشا ډيپلوماسۍ پر مټ له پاکستان سره د خپلو اړيکو بيارغونه کړې ده.

په افغان سوله کې هم د پردې تر شا ډيپلوماسي او غير مستقيمه اړيکه له پخوا څخه يو رواج پاتې شوی. په تيره لنډه موده کې اندونيزيا يو داسې هيواد و چې د پردې تر شا ډيپلوماسۍ پر مټ افغان سوله کې خپل رول ولوبوي. په دې لړ کې دغه هيواد له پاکستان سره د ۲۰۱۸ ز کال په اوږدو کې وخت ناوخت ډيپلوماټيکې ليدنې تر سره کړې، خپل هيواد کې يې ناستې برابرې کړې او د پاکستان او افغانستان ترمنځ يې تګ راتګ کړې. همدا راز، ازبکستان په تير يو کال کې يو بل هغه هيواد را څرګند شوی، چې په افغان سوله کې هلې ځلې کوي او غواړي پټ رول ولوبوي.

بل خوا د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ هم په پټه ډېرې اړيکې پالل شوې، چې د طالبانو په استازيتوب کابل کې اشخاصو د حکومت لهمشرتابه سره په پټه ليدنې کتنې کړې دي. د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې د بهير په بريالتوب کې هم د پردې تر شا ناستو، خبرو اترو او ډيپلوماسۍ خپل ځانګړی رول درلودلی دی. خو له بده مرغه دغه چاره بيا د طالبانو په اړه ډېره کامیابه نه ده ثابته شوې او پايلې يې ډېر وار منفي را وتلې دي.

د پردې تر شا ډيپلوماسي او هلې ځلې د ډيپلوماسۍ يوه منل شوې بڼه ده. د نړۍ په هره برخه کې دا ډول ډيپلوماسي د ډيپلوماټيکو موخو د تر لاسه کولو لپاره کارول کېږي. د دې ډيپلوماسۍ تر ټولو مهمه برخه د هغو هيوادونو، ادارو او اشخاصو پيژندل دي، چې د ډيپلوماټيکو هلو ځلو په برخه کې مثبت رول لوبولی شي. د دغه ډول اړخونو پيژندل، د هغوی د اغيز د ټکو پيدا کول او بيا د هغو کارول د يو هيواد د ډيپلوماټيکې دستګاه فعاليت او پر سياستونو باندې د حاکميت نښه ده. همدا راز، د دغه ډيپلوماسۍ د برې انحصار تر ډېره بريده د هيوادونو د پردې تر شا ډيپلوماسۍ د مهرو په ښه ډول کارولو باندې وي.

افغانستان ډېره اړتيا لري چې په ځينو مواردو کې د پردې تر شا ډيپلوماسي وکاروي. له ايران سره په دې لړ کې د پردې تر شا ډيپلوماسي د افغان حکومت مجبوريت دی، ځکه چې مخامخ اړيکې د دې لامل کيدی شي چې د افغان حکومت ستراتيژيک ملګري امريکا د خپګان لامل وګرځي. بله خوا له پاکستاني سياستوالو او ملکي حکومت سره د پردې تر شا ډيپلوماسۍ ته اړتيا ده، ځکه چې رسمي ډيپلوماسي د پاکستاني پوځ د مداخلې له کبله مطلوبه پايله نه شي درلودلی. که څه هم افغان حکومت په دې برخه کې هلې ځلې کړې دي، خو په ياده برخه کې کومې ځانګړې ډيپلوماټيکې لاسته راوړنې نه ليدل کيږي. د دې لامل شايد دا هم وي چې په سيمه کې د افغان ډيپلوماسۍ مخالفين دومره پياوړي دي، چې د هغوی په شتون کې د افغانستان د پردې تر شا ډيپلوماسي خپلو موخو ته نه شي رسېدلی. خو په هر صورت، د افغانستان ډيپلوماټيکه دستګاه بايد د پردې تر شا ډيپلوماسۍ په برخه کې فعاله واوسي، هر مهال د خپل مطلب اړوندو هيوادونو پورې تړلې مهرې وپيژني او د دغو مهرو د کارولو لپاره پلان او چمتووالی ولري.

## خليلزاد: ټولې خواوې د سولې خبرو د ګړنديتوب غوښتنه کوي

د سولې عالي شورا وايي، د افغان سولې په تړاو د زلمي خليلزاد او افغان حکومت ترمنځ د وروستۍ همغږۍ هرکلی کوي.

دې شورا ويلي چې په ياده برخه کې د دواړو لورو ترمنځ وروستۍ همکاري، همغږي او د معلوماتو شريکول به د سولې له بهير سره مرسته وکړي.

د سولې شورا وياند غفور احمد جاويد رسنيو ته په لېږلي غږيز پيغام کې ويلي: «د افغان سولې پروسې لپاره د امريکا د متحده ايالتونو د ځانګړي استازي ډاکټر صاحب زلمي خليلزاد او د افغانستان دولت ترمنځ د افغان سولې لپاره وروستۍ همغږۍ، همکاري او همدارنګه د معلوماتو شريکول، ډېر ښه دي او دغه څه به د سولې پروسې سره مرسته وکړي».

د سولې شورا دغه خوشبيني داسې مهال ده چې راتلونکې اونۍ په دوحه کې د افغان سولې په تړاو د امريکايي او طالب استازو ترمنځ د افغان سولې په تړاو اووم پړاو مذاکرات پيلېږي.

د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد ويلي چې د يادو مذاکراتو نوی پړاو به راتلونکې شنبې (د جون پر ۲۹مه) پيل شي.

خليلزاد پر خپل ټوېټر ليکلي چې افغانستان او قطر ته له سفر کولو وروسته، ورته څرګنده شوه چې ټولې خواوې د سولې خبرو ګړندي کېدل غواړي.

د سولې عالي شورا همدارنګه يو ځل بيا تمه ښودلې چې د زلمي خليلزاد او طالب استازو ترمنځ په راتلونکي اووم پړاو مذاکراتو کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو زمينه برابره شي.

تر دې مخکې خليلزاد ويلي وو چې د سولې موافقه به څلور برخې ولري، چې پکې د ترهګرۍ د مخنيوي باورتيا، د عسکرو وتل، بين‌الافغاني مذاکرات چې يو سياسي جوړجاړي ته لاره هواره کړي او پر يو هر اړخيز او تلپاتې اوربند موافقه شامله ده.

که څه هم د سولې د تېرو شويو مذاکراتو په هکله بېلابېل نظرونه موجود دي، خو خليلزاد ويلي، تر هغې چې په پورتنيو مسايلو موافقه نه وي شوې، په هېڅ شي هوکړه نه کېږي.

## ټاکنو کمېسيون: نږدې يو لک ۲۳ زرو کسانو تقويتي نوملیکنه کړې ده

په داسې حال کې چې د تقويتي نوملیکنې د بهير پای ته رسېدو ته شپږ ورځې پاتې دي، د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي، تر اوسه يو لکو ۲۲ زرو او ۶۹۰ کسانو نوملیکنه کړې ده.

د دغه کمېسيون مرستيال وياند عبدالعزيز ابراهيمي ازادي راډيو ته ويلي، چې کمېسيون په پلان کې نه لري چې دا بهير د نورو ورځو لپاره هم وغځوي. نوموړي زياته کړې: «د بهير د غځولو لپاره تر اوسه کوم بل انتخاب نه لرو، هدف همدا دی چې مونږ بايد د سرطان د مياشتې تر ۸مې نېټې پورې دا بهير بشپړ کړو، ټول وګړي کولای شي چې په همدې موده کې نوملیکنه وکړي او د رايې ورکونې له حقه برخمن شي».

د تقويتي نوملیکنې بهير په ۳۳ ولايتونو کې په ۴۵۸ مرکزونو کې؛ خو په غزني ولايت کې چې د ولسي جرګې د تېرې دورې ټاکنې په کې ونه شوې، عمومي نوملیکنه ده، په ۲۴۷ مرکزونو کې په عمومي ډول پيل شوې دي.

د نوملیکنې په تقويتي بهير کې ټول هغه کسان شامل دي، چې د تېر کال د نوملیکنې له پروسې پاتې دي، تازه ۱۸ کلن شوي او يا له بهره راستانه شوي او يا يې هم پېژندپاڼې سوځېدلې او يا ورکې شوې دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ يا فيفا په دغه بهير کې د کسانو د کمې نوملیکنې په موضوع اندېښنه څرګنده کړې او وايي چې کمېسيون په دې برخه کې خپل بشپړ مسووليت نه دی ادا کړی.

د دغه بنسټ اجراييوي رييس يوسف رشيد زياته کړې: «له شک پرته چې دا مهال د تقويتي نوملیکنې بهير ورو مخکې ځي او شمېره ډېره ټيټه ده، کمېسيون بايد په پاتې ورځو کې هم مطالعه وکړي او که چېرې په راتلونکو ورځو کې دا بهير چټکېږي، بايد پروسه وغځوي».

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې ولسمشريز ټاکنې د روان کال د ميزان د مياشتې په شپږمه نېټه ترسره شي. د ټاکنو پر خپلواک کمېسيون د تقويتي نوملیکنې د کمزوري مديريت ترڅنګ، پر دغه بنسټ د فساد تورونه هم پورې کېږي؛ خو دوی وايي چې د ټاکنو لپاره بشپړ چمتووالی لري او په شفاف ډول به دا پروسه تر سره شي.

# د امریکا – ایران تر ممکنه جګړې لاندې افغان سوله!



لیکنه: جمیل وقار

د امریکا او ایران اړیکې له هغه وروسته تر ټولو ترینګلې مرحلې ته ننوتې، چې ایراني ځواکونو هورمز تنګي ته څېرمه د امریکا یوه بې پیلوټه الوتکه نسکوره او په دې سره یې د جګړې د چمتووالي اعلان هم وکړ. دې دواړو هېوادونو اړیکې له هغه راهیسې چې ولسمشر ټرمپ واک ته رسېدلی، ورځ تر بلې مخ په ځوړ روانې دي، تر دې چې د امریکایي الوتکې له نسکورېدو څو ساعته وروسته ولسمشر ټرمپ پر ایران د برید حکم صادر، خو ډېر ژر د یو لړ ملحوظاتو له امله ترې په شا شو. په دې لیکنه کې د امریکا او ایران د اړیکو په شالید، د جګړې په ممکنه پېښېدو او پر افغانستان د دې جګړې پر اغېزو غږېږو.

**د ایران او امریکا د اړیکو شالید**

ایران او امریکا په تېر کې ستراتیژیک ملګري پاتې شوي، د شلمې پېړۍ تر اتمې لسیزې پورې دا هېواد په سیمه کې د امریکا تر ټولو نږدې او همکار هېواد و، تر دې چې په ۱۹۵۰ ز کال کې د متحده ایالتونو په مرسته رضاشاه پهلوي د یورانیمو د غني کولو پروګرام پیل او امریکا یې په تجهیزاتي او تخنیکي برخو کې همکاري کوله. په ۱۹۷۹ ز کال کې د امام خمیني په مشرۍ، ایرانیانو د شاه په ضد اسلامي انقلاب وکړ او په پایله کې شاه له واک څخه لرې او مصر ته وتښتېد. د وخت امریکایي ولسمشر جیمي کارټر په ۱۹۸۰ ز کال کې له ایران سره ټولې ډیپلوماټیکې اړیکې پرې او سفارت یې بند کړو. درې کاله وروسته د امریکا او ایران ترمنځ اړیکې نورې هم خرابې او امریکا په ایران تور ولګاوه، چې په ناقانونه ډول یورانیم غني کوي او په دې لړ کې یې پر دغه هېواد سخت اقتصادي بندیزونه ولګول. په ۲۰۰۰ ز کال کې امریکا د ایران د اټومي تاسیساتو او یورانیمو له غني کولو څخه د نظارت لپاره دغه هېواد ته یو هئیت ولېږو او د هیئت د ارزونو له مخې، ایران د ناقانونه او مشکوکو فعالیتونو په تر سره کولو تورن شو.

په ۲۰۱۰ ز کال کې ایران په بې ساري ډول د یورانیمو د غني کولو پروسه پراخه او پورته کړه او امریکا یې هم په ځواب کې پر دغه هېواد درانه تحریمات وضع کړل. په ۲۰۱۳ ز کال کې امریکا، چین، برېټانیا، روسیې، فرانسې او جرمني د ایران د اټومي فعالیتونو د مخنیوي په موخه، له دغه هېواد سره موقتي تړون او په ۲۰۱۵ ز کال کې په ټولو مواردو موافقې ته ورسېدل او په وروستي تړون یې هم هوکړه وکړه.

ولسمشر ټرمپ چې کله واک په لاس کې واخیست، شاوخوا یو کال وروسته یې د ۲۰۱۷ ز کال په جولای کې له ایران سره د اوباما د ادارې تړون لغوه او پر دغه هېواد یې نوي بندیزونه وضع کړل. د یوه کال په اوږد کې یې د ایران د تیلو صادرات نیمایي ته را ټیټ کړل او په تازه اعلان شویو بندیزونو کې یې ژمنه وکړه، چې تر راتلونکو شپږو میاشتو پورې به د صاداراتو یاده لړۍ صفر ته را ټیټه کړي. په دې منځ کې د ایران د سپاه پاسداران په ګډون، پر ډېرو بنسټونو بندیزونه لګولي او په وروستیو ورځو کې په نظامي لحاظ هم دا هېواد له څلورو اړخونو محاصره شوی او خبره تر دې ځایه رسېدلې، چې امریکا پر ایران د برید په اړه په کور دننه او بهر مشورې پیل کړې دي.

**پر ایران ممکنه برید**

امریکا داسې مرحلې ته رسېدلې، چې د بې پیلوټه الوتکې د غورځېدو په اړه باید غبرګون وښیي. ولسمشر ټرمپ په هورمز تنګي کې د امریکایي الوتکې د نسکورېدو له پېښې څو ساعته وروسته پر ایران د برید حکم وکړ، خو په کور دننه د یو لړ فشارونو او د ممکنه برید د ناوړه پایلو له امله بیرته په شا شو.

ظاهراً د امریکا او ایران روابط هغې مرحلې ته په ننوتو دي، چې په نن او سبا کې به دې دواړو هېوادونو ترمنځ جګړه ونښلي، خو مسئله تر دې کچې ساده او اسانه نه ده. که دې دواړو هېوادونو سیاسي، اقتصادي او نظامي ځواک پرتله شي، طبیعي خبره ده چې امریکا په کراتو ځواکمنه او غښتلې ده، خو یو لړ نور نړیوال او سیمه ییز مجبوریتونه دي، چې د امریکا پښې او لاسونه یې ور تړلي او د دې ملاحظاتو له امله نه شي کولای غوڅه پرېکړه وکړي.

په کور دننه امریکا کې د جګړې په اړه عامه ذهنیت خراب دی، د تېرو کلونو خلاف یې پخواني متحدین یا له لاسه ورکړي او یا حداقل د ایران په اړه خپل دریځ لري، چې مجبوراً امریکا یې باید نظر او خبرې ته غوږ ونیسي.

په ورته مهال سیمه کې امریکا په منځني ختیځ او افغانستان کې عملاً په وسله واله جګړه کې ښکېله ده، دا جګړې هغه مهال پیل شوې وې، چې نه په چین او نه په روسیه کې اوسنی ځواک موجود و او نه امریکا په اقتصادي او سیاسي لحاظ په اوسنۍ بڼه مجبوره وه، خو اوس چې امریکا د ایران په اړه ورته غبرګون ښیي، دا به سیمه ییزو او نړیوالو سترو لوبغاړو ته په سخته د منلو وړ وي.

په ټوله کې دې دواړو هېوادونو ظاهري ترینګلې اړیکې د دې مانا نه لري، چې امریکا له ایران سره جګړې ته ننوزي، بلکې تر ډېره پورې خپله امریکا په دې لټه کې ده، چې له جګړې پرته خپلې موخې تر لاسه او پر ایران کافي فشارونه وارد کړي.

**د امریکا – ایران جګړه او پر افغان مسایلو یې اغېزې**

ایران د افغانستان ګاونډی او په ډېرو مسایلو کې دخیل هېواد دی او امریکا د یوه ستراتیژیک ملګري هېواد په توګه د افغانستان په چارو کې له تېرو څو لسیزو راهیسې فعال رول لري. دواړه هېوادونه د افغانستان په چارو کې په مثبت او منفي بڼو له کلونو راهیسې فعال رول لوبوي او ترمنځ یې منفي تعلقات د افغانستان پر چارو هم منفي تاثیرات درلودلی شي.

اوسمهال چې افغانستان نه د خپلواکې تصمیم نیونې امکانات او صلاحیت لري او نه هغسې شرایطو ته زمینه برابره ده، چې د دې دواړو هېوادونو له کشمکش څخه ځان خوندي کړي، طبیعي خبره ده چې تر ډېره پورې به یې پر دغه هېواد اغېز هم منفي وي. د افغانستان د سولې په اړه سیمه ییزه او نړیواله اجماع رامنځ ته شوې، که امریکا په داسې مهال په ایران برید وکړي، د قدرت هغه توازن چې له کلونو راهیسې یې چین او روسیه په لټه کې دي، له منځه ځي او یاد هېوادونه به له هغو مسایلو او توافقاتو هم په شا شي، چې د افغانستان په شمول یې د یو لړ نورو مسایلو په سر له امریکا سره نسبي توافق کړی دی.

د دې ترڅنګ، که امریکا په نړیواله کچه په یوه بله جګړه کې ښکېله شي، د ۲۰۰۳ ز کال په څېر چې د عراق په چارو کې ښکېل شوه، یو ځل بیا به د افغانستان مسایلو ته شا او تر ډېره پورې به خپل تمرکز پر ایران ور ټول کړي.

## د ولسي جرګې معترض نوماندان:

# که ولسي جرګه خپله ستونزه حل نه کړي، موازي پارلمان اعلانوو



څه باندې یوه نیمه میاشت کېږي چې نوې ولسي جرګه د ولسمشر له لوري پرانیستل شوې ده، خو دغه جرګه لا هم پر دې نه ده بریالۍ شوې چې د رییس پر سر رامنځ ته شوې کړکېچ ختم کړي. تر اوسه اداري پلاوی نه دی ګومارل شوی او د ریاست پر سر ناندرۍ پر خپل ځای پاتې دي.

بل پلو د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو معترض نوماندان وایي، که ولسي جرګه له موجود وضعیت څخه ونه وځي، دوی به موازي پارلمان اعلان کړي. د ولسي جرګې د نوماندانو سیاسي حرکت وایي چې تېرې ټاکنې له درغلیو ډکې وې، په ټاکنیزو کمېسیونونو کې فساد روان و او حکومت هم په انتخاباتي کمېسیونونو کې مداخلې وکړې، چې په پایله کې یې د خلکو رښتینو استازو پارلمان ته لاره پیدا نه کړه.

د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو سیاسي حرکت وایي، چې ولسي جرګه باید له اوسني وضعیت څخه و اېستل شي او که ستونزه حل نه شي، دوی به یې په مقابل کې موازي پارلمان اعلان کړي او له دولت څخه به حساب او کتاب وغواړي. دوی وایي چې حکومت له ابتدا مشروعیت نه درلود، خو د ملي شورا د اوسني وضعیت دوام به د دولت دوه قوې د عدم مشروعیت له بحران سره مخ کړي. د نوماندانو په خبره: ((د ملي یووالي حکومت د قانون خلاف رامنځ ته شوی، مشروعیت نه لري، خو د ملي شورا اوسنی وضعیت یې نور هم مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي)).

دغه معترض نوماندان وایي، چې د ولسي جرګې تېر انتخابات، له درغلیو، تخطیو او فساد څخه ډک وو او حکومت د انتخاباتي کمېسیونونو په چارو کې مداخله کوله. دوی زیاته کړې: ((د ټاکنیزو کمېسیونونو غړي په فساد کې ښکېل وو، دوی له دندو ګوښه کړل شول، تر څارنې لاندې دي، نو له همدې امله تېرې ټاکنې د منلو وړ نه دي او دولت باید دوی ته حساب ورکړي)).

دوی له دولت او نړیوالو ادارو غواړي، څو په تېرو انتخاباتو کې د شویو درغلیو د څېړنې لپاره یوه ځانګړې محکمه جوړه کړي. دوی وایي، نړیوالې ادارې او دولت دې داسې یوه محکمه جوړه کړي چې په تېرو ټاکنو کې شوې درغلۍ وڅېړي او د خلکو رښتیني استازي ولسي جرګې ته بریالي کړي.

د ولسي جرګې د تېرو انتخاباتو د معترضو نوماندانو ولسي حرکت داسې مهال د موازي پارلمان د جوړېدو خبرداری ورکوي، چې دا مهال په ولسي جرګه کې د ریاست پر سر جنجالونه دوام لري او تر اوسه وکیلان نهایي توافق ته نه دي رسیدلي.

د ولسي جرګې غړو په تازه اقدام کې یو شل کسیز پلاوی ټاکلی دی چې دغه ستونزه به حل کوي. ویل کېږي چې دواړو لورو لس لس کسان دغه پلاوي ته ور معرفي کړي دي، خو د تېرې ورځې غونډه یې بې پایلې وه.

وکیلان وایي، ټولو هوکړه کړې چې په ولسي جرګه کې اوسنۍ ستونزه باید حل شي او دغه پلاوی به خپلو غونډو ته ادامه ورکوي. په ولسي جرګه کې روان وضعیت په عامو افغانانو کې هم بد انځور پیدا کړی دی او ډېری خلک د ولسي جرګې پر اوسنیو کشمکشونو نیوکه کوي.

# ټرمپ: پر ایران به ډېر ژر نوي بندیزونه ولګوو



د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې د راتلونکې دوشنبې په ورځ به پر ایران سخت بندیزونه ولګوي او دغه بندیزونه به د ایران د حکومت د رهبرۍ تر بدلون پورې ادامه کوي. ټرمپ نه دي ویلي چې په دغه بندیزونه به څه ډول وي، خو ټینګار کوي چې د ایران ډېری سکټورونه به زیانمن کړي.

د امریکا ولسمشر دغه راز ټینګار کړی چې هېڅ وخت به ایران ته د اټومي وسلو د لرلو اجازه ورنه کړي او په ټول توان به د ایران د ورانکارو کړنو مخه ونیسي.

نوموړي ویلي: «ایران اوس په یوه اقتصادي ګډوډۍ کې دی. سم دم له دوزخه تیرېږي. بندیزونو سخت وهلی دی. نور بندیزونه به هم پرې ولګول شي. ډېر زیات. دومره زیات چې باور یې هم نه شي کولای، خو دا یوه ګډوډي ده. هر څه چې زه غواړم هغه د «ایران له‌خوا» د اټومي وسلو نه درلودل دي».

دا په داسې حال کې ده چې ایران تېره اونۍ اعلان وکړ چې د امریکا یوه بې پیلوټه الوتکه یې په خپل هوایي حریم کې نسکوره کړې ده.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د جمعې په ورځ وویل، د ایران د دغه کار په ځواب کې یې پر ایراني اهدافو د برید امر کړی و، خو کله چې په یاد برید کې د ډېرو احتمالي تلفاتو خبره ورته وشوه، بېرته یې خپل امر واخیست.

خو تر هغې یوه ورځ وروسته ټرمپ بیا ګواښ کړی، چې که ایران له دې لارو لاس وانه خلي، د دوی د برید امکان لا هم شته. نوموړي ویلي: «دا تل یو امکان دی، څو چې موږ دا «لانجه» نه وي هواره کړې. هو موږ په هغې سیمه کې فوق العاده قوي پوځیان لرو. دا «پوځي اقدام» تل د میز پر سر شته تر څو چې دا «لانجه» هواره شي».

ټرمپ زیاته کړې، که ایراني مشران بد چلند وکړي، په لویه بیه به ورته تمامه شي، خو ایران په خپل دریځ کلک ولاړ دی او وایي، که برید پرې وشو «تاریخي ځواب» به ورکړي.

د ایران د وسله والو ځواکونو د لوی درستیز ویاند، ابوالفضل شکارچي تسنیم خبري اژانس ته ویلي: «د دښمن په ځانګړي توګه د امریکا او د سیمه ییز متحدانو له خوا به یې پوځي تېروتنه، د باروتو پر هغه انبار ډز کولو ته ورته وي چې د امریکا ګټې پر بار وي».

د ایران او امریکا ترمنځ د پنجشنبې له ورځې راهیسې کړکېچ وروسته له هغه زیات شو، چې ایران د امریکا بې پیلوټه ار کیو فور ګلوبل هاک الوتکه نسکوره کړه.

امریکا ویلي، ایران په هورمز تنګي کې په نړیوال هوایي حریم کې د دوی الوتکه نسکوره کړې، خو د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف ټینګار کړی چې دوی د امریکا ډرون د ایران هورمزګان ولایت په مبارک غره کې نسکوره کړې ده.

## د کتـــاب خبـــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز

◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دولسم څپرکی
### موخې د ودې لپاره وکاروئ




په تېرو څپرکو کې مو چې د بري لپاره کوم اړین اصول په گوته کړل، دا د رهبرۍ د ورتیا په ترلاسه کولو کې هم مهم دي. دلته درته د رهبرۍ څلور اصول یا قوانین ښیو. دا څلور اصول راسره مرسته کوي چې په هره برخه کې خلک د زړه له تله زموږ خدمت وکړي … مثلاً که په مدیریت کې وي، که په سوداگرۍ کې وي، که ټولنه کې وي او لنډه دا چې هر ځای کې وي.

د رهبرۍ څلور اصول یا قوانین په لاندې ډول دي:

١. په کومو خلکو چې نفوذ غواړئ، نظر ورسره تبادله کړئ.
٢. له ځانه وپوښتئ: دې موضوع سره تر ټولو انساني چلند کوم دی؟
٣. پر بري فکر وکړئ، باور پرې ولرئ او هڅه ورته وکړئ.
٤. ځان ته د یوازیتوب لپاره وخت ورکړئ.

د دې څلورو اصولو تمرین ښه پایله لري او په ورځني ژوند کې انسان د رهبرۍ له زرینو اصولو سره بلدوي.

خو څنگه؟ داسې:

د رهبرۍ لومړی اصل: په کومو خلکو چې نفوذ غواړئ نظر ورسره تبادله کړئ.

په چا چې اغېز غواړئ، خبرې ورسره وکړئ او نظریات سره بدل کړئ. دا چاره خلک (ملگري، همکاران، پیرودونکي، کارکوونکي…) ستاسې د خوښې وړ کار کولو ته هڅوي. دا دوه بېلگې ولولئ چې په اغېز یې پوه شئ:

تېر په یوه تبلیغاتي اداري کې د تلویزیوني اعلاناتو د لیکوال او لارښود په توگه دنده ترسره کوي. دې شرکت چې د ماشوم بوټانو له یوه تولیدونکي شرکت سره تړون وکړ، نو د څو اعلاناتو جوړولو مسئولیت پکې تېډ ته وسپارل شو.

د پراخه تبلیغاتو پیلولو یوه- دوې میاشتې وروسته د تولید په خرڅلاو کې هېڅ زیاتوالی رانغی، نو په دې خاطر ټول ذهنونه تلویزیوني اعلاناتو ته متوجه شول، ځکه په زیاتره ځایونو کې یوازې همدا تلویزیوني تبلیغات کارېدل.

د تلویزون څو لیدونکو څېړنو وښودله، چې نږدې څلور سلنه لیدونکو دا د یوه ښه شي اعلان گاڼه.

شپږ نوي سلنه نور خلک یا د دې اعلان په اړه بې تفاوته وو یا ورته په دې کې هم څه چل ښکارېده، چې دومره تبلیغات ولې کوي.

سلگونو خلکو داسې خبرې کولې چې: (دا بیخي بل ډول دی، سندره یې داسې ده لکه د شپې درې بجې چې نیورلان راډیو چالانه وي)، (زما بچي ټول تلویزیوني اعلانات گوري، خو دا د بوټانو اعلان چې راشي، دوی یا تشناب ته ځي یا یخچال ته)، (په دې اعلان کې دروغ ډېر دي)

دا ټول نظریات چې راټول او ارزیابي شول، ډېره جالبه خبره ترې راووته: کومو څلور سلنه خلکو چې دا اعلان خوښ کړی و، د دوی اقتصادي حالت تېډ ته ورته و او د شپږ نوي سلنه نورو خلکو حالت بیا جلا و.

د تېډ پر دې اعلان نږدې شل زره ډالر لگښت راغلی و، خو دا چې یوازې خپل ذوق او نظر ته یې پکې کتلي وو، نو اعلان یې ناکام شو. ده په اعلان جوړولو کې د بوټانو په اړه خپل ذوق وړاندې کړی و، نه د نورو خلکو ذوق. ده داسې اعلان جوړ کړی و چې یوازې ده ته ښایسته ښکارېده، خو نورو خلکو ته بې خونده او بې مانا و.

البته که تېډ ځان دنورو خلکو پر ځای گڼلی وی او له ځانه یې دا پوښتنه کړې وی چې: (که زه د دې ماشومانو پر ځای وی، څه ډول اعلان به دې ته هڅولاوی وم، چې له مور و پلار مې دا بوټان وغواړم؟) هله به بیا پایلې هم بدلې وی.

جین ولې کاروبار کې ناکامه شوه

جین څلورویشت کلنه تکړه او ځیرکه پېغله وه. زده کړې یې کړې وې. له پوهنتونه چې فارغه شوه، د جامو په یوه دوکان کې یې دنده واخیسته. هلته له ډېرو سپارښتونو سره مخ شوه، ان په یوه لیک کې یې ورته ولیکل: (جین تکړه نجلۍ ده، لوړ خیالونه لري، راتلونکي سره مینه لري او روښانه راتلونکي ورته په تمه دی.)

خو لږ تر لږه په دې کار کې داسې روښانه راتلونکی نه و. جین په دې ځای کې اته میاشتې بوخته وه، بیا یې دا ځای پرېښود او بل ځای کې یې کار پیل کړ.

جین چې د خرڅلاو کوم مدیر سره کار کاوه، هغه کس زما بلدي و، یوه ورځ مې ترې د دې موضوع پوښتنه وکړه.

هغه راته وویل: (جین ښه نجلۍ ده، ډېر ښه خویونه هم لري، خو کار کې یې یوه لویه نیمگړتیا هم درلوده.)

ما وپوښت: (کومه نیمگړتیا؟)

ویل یې: (دې به دوکان ته په خپل زړه سودا راوړله او هغه سودا به د پېرودونکو نه خوښېده. دې به د مالونو رنگ، ډیزاین او بیه په خپله خوښه ټاکل، نه د پېرودونکو په خوښه او نه یې پکې د دوی اقتصادي حالت ته پام کاوه. ما به ورته ویل، چې دا سودا دوکان ته ښه نه ده، هغې به راته وویل: (څه؟ دا چې زما دومره خوښ شول، نو د خلکو خو به حتمن خوښېږي. جین په لویې او شتمنې کورنۍ کې را لویه شوې وه او تل یې لوړ کیفیت غوښت. د توکو بیه ورته هېڅ مطرح نه وه او جامو ته یې د پېرودونکو له زاویې بیخي نه کتل، په دې خاطر به چې جین کومه سودا راوړله، هغه به پر موږ پاتې وه.)

**دوام لري...**

# میانمار

حشمت الله نوري

میانمار یا برما د آسیا جنوب ختیځې خوا ته د مالاکا په ټاپووزمه کې د هند و چین د ټاپووزمې شمال لوېدیځ څنگ ته د بنگال د خلیج او د اندامان د سیند تر خوا د شمالي عرض البلدونو د ۱۰ او ۲۸ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۹۰ او ۱۱۰ درجو تر منځ موقعیت لري. د دغه هېواد پراخوالی ۲۶۱۲۲۸ میل مربع ته رسېږي، چې له دې پلوه د نړۍ ۳۸م لوی هېواد دی.

د میانمار شمال ته چین او هند، جنوب ته د اندامان سیند او د بنگال خلیج، ختیځ ته چین او تایلنډ او لوېدیځ ته یې هند بنگله دیش او د بنگال خلیج موقعیت لري.

د دغه هېواد پلازمېنه د یانگون ښار دی او ټولټال یې د نفوس شمېر ۵۴ میلیون کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۸۲ کسان ژوند کوي. همدارنگه د دغه هېواد ۴۵ سلنه وگړي په ښارونو او ۵۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري. میانمار د اداري وېش له پلوه په اوو ایالتونو او اوو برخو وېشل شوی دی. مهم ښارونه یې یان یون، ماندالای، نای پی، تاو مولمین، پگو یاباگو، مونیور، اکیاب، پروم پاپون او آینن دي.

د میانمار اساسي قانون د ۱۹۷۴ ز کال د جنوري په درېیمه نافذ شوی دی. دغه قانون د ۱۹۸۸ ز کال د سپټمبر له ۱۸م څخه تر اوسه پورې ځنډېدلی دی. د ۱۹۹۳ ز کال د جنوري په نهمه یوې ملي ټولنې د هېواد د نوي اساسي قانون په جوړولو لاس پورې کړ، چې یوازې سریزه او درې فصلونه یې له ۱۵ فصلونو څخه منظور شول. دغه ټولنه په ۱۹۹۶ ز کال کې وتړل شوه، د ملي ټولنې فعالینو دا اداره په ۲۰۰۴ ز کال کې بیا پرانیستله، خو د میانمار د دولت ولسواک اپوزیسیون ورسره یو ځای نه شو. په پام کې وه چې د ۲۰۱۱ ز کال د جنوري په ۳۱مه د میانمار نوی اساسي قانون نافذ او د دغه هېواد نوې ملي شورا په کار پیل وکړي، خو دا کار وځنډېد او اوس یې نوې ملي شورا په کار پیل کړی دی.

د دغه هېواد اوسنی ولسمشر ون مایند دی. کله چې په میانمار کې دولتي ټولنې د سولې او پرمختیا کابینه ړنگه کړه او واک پوځیانو په لاس کې واخیست، د دغه هېواد د پوځي حکومت د اپوزیسیون مشري یې هانگ سان سوکي ته ورکړه چې وروسته یې بیا ډېره موده په کور کې بند هم تېر کړ.

د دغه هېواد د قانون له مخې، یو لومړی وزیر به بل لومړي وزیر ته واک سپاري. د میانمار ملي شورا دوې جرگې لري، لومړۍ ولسي جرگه یې ۴۴۰ غړي لري، چې ۳۳۰ د خلکو په خوښه او ۱۱۰ د پوځ له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي. دویمه هغه یې د ملتونو شورا ده چې ۲۲۰ غړي لري، ۱۶۸ یې د خلکو له خوا او پاته ۵۶ یې د پوځیانو له خوا ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول په کې عمومي دي.

د میانمار حقوقي نظام محدود دی او د انگلسانو د عصر په قوانینو چلیږي. دغه قوانین د هند د نیمې وچې د استعمار په وخت کې جوړ شوي وو. په دغه هېواد کې قضایي سیستم خپلواکي نه لري او د عادلانه پرېکړو تمه نه شي ترې کېدای.




د ملي یووالي گوند، د ولسواکۍ لپاره د شان گوند، د رخین د ملیتونو گوند، د ټولنې د پیوستون او پرمختیا گوند او د میانمار د محصلینو ولسواکه جبهه د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي. دغه هېواد د ۱۹۴۸ ز کال د جنوري په څلورمه له انگلستان څخه خپلواکي واخیسته او هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم په کې نمانځل کېږي.

په عمومي توگه د میانمار په اقتصاد کې دولتي او خصوصی برخې دواړې فعالې دي. خصوصي پانگه په کرنه، سپکو صنایعو او ترانسپورټ کې کار کوي. په داسې حال کې چې دولت د انرژۍ درندو صنایعو او د وریجو په سوداگرۍ کې د پام وړ گامونه اوچت کړي دي. د میانمار دولت له ۱۹۸۹ څخه تر ۱۹۹۸ ز کال پورې لس کاله هڅه وکړه چې له دریو لسیزو مرکزي اقتصادي پلان جوړونې وروسته، خپل اقتصاد ته نوې سا ورکړي. له همدې امله د اقتصاد خصوصي سکټور پیاوړی شو او بهرنۍ پانگه اچونه و هڅېده. سره له دې چې په یادو لسو کلونو کې یو څه بریالیتوبونه تر لاسه شول، خو اوس هم هڅې دوام لري چې د دولتي شرکتونو او تصدیو اغېزمنتیا او گټورتوب زیات شي.

مالي او پولي اهدافو ته په رسیدو کې د میانمار مقاماتو ناکامي د دغه هېواد اقتصادي ستونزې زیاتې کړې دي. له دې ټولو خبرو سره سره، میانمار یو بېوزله ملک دی، چې ډېر خلک یې په فقر کې ژوند کوي. د دغه هېواد د راتلونکي اقتصادي پرمختگ لپاره عواید او د صادراتو زیاتول او د ژوندانه د سویې جگول پکار دي.

د خوراکي توکو پروسس، ټوکران، بوټونه، لرگي او لرگین شیان، د تېلو، مسو او اوسپنې ایستل او پروسس، کیمیاوي سره، ساختماني توکي، سیمنټ، چرمي شیان، وړیني جامې، دارو درمل او سپکې وسلې د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورنه دي.

د میانمار ۱۷ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. د دغه هېواد دوه سلنه ځمکه څړځایونو، ۵۰ سلنه ځنگلونو او پاتې نوره غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۷۲ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۴۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي. چای، وریجې، جوار، تېلي دانې، گنې، تنباکو، پنبه، ربړ، لوبیا، لرگي، سابه، میوه، لبنیات، غوښه او په تېره بیا د کبانو غوښه د میانمار مهم کرنیز محصولات بلل کیږي. د دغه هېواد پر شپږ میلیون هکتاره ځمکه باندې وریجې کرل کیږي او وریجې د دغه هېواد غټ صادراتي قلم بلل کیږي. د میانمار غټ تجارتي شریکان هند، سنگاپور، چین، تایلنډ، جاپان، سریلانکا او اروپا یې هېوادونه دي. دغه هېواد ۸۰ هوایي ډگرونه لري چې ۴۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. همدا راز د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹۵ او د انټرنېټ کود یې MM دی، چې ټولټال یې سل زره کسان ورته لاسرسی لري.

د میانمار دولت ټولې رسنۍ څاري، دغه هېواد درې دولتي ټلویزیونونه لري، چې یو یې د پوځ له خوا اداره کیږي او شپږ دولتي او خصوصي راډیوگانې هم لري.

میانمار د سرې سرکلنې عاید له پلوه د آسیا او نړۍ له بېوزله او نارامه هېوادونو څخه شمېرل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلنو څخه پورته ۹۴ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهیږي. زده کړه په میانمار کې له ۵-۹ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

لرغونو نښو نښانو ښودلې ده چې ځینې خلک له میلاد څخه ۶۰۰ کاله مخکې د برما په اوسنۍ خاوره کې استوگن وو. د برما پخوانی تاریخ په افسانو کې نغښتی دی، خو هغه کسان چې له میلاد څخه ۶۰۰ کاله مخکې دې سیمې ته ورغلي، په اصل کې د چین او تبت اوسېدونکي وو. په ۱۱مه میلادي پېړۍ کې د برما د جنوبي سیمو اوسیدونکو د کادو شمالي سیمې ونیوې او د پاگان دولت یې جوړ کړ. په دغه وخت کې برما د لومړي ځل لپاره د اناوراتا د واکمنۍ په وخت کې تر واحدې اداري لاندې راغله او بودایي دین په ټول هېواد کې خپور شو. دوولسمه او دیارلسمه میلادي پېړۍ د برما د تاریخ زرین وخت بلل کیږي. د دغه وخت د ښایسته ودانیو بېلگې اوس هم د سیلانیانو د ننداري وړ دي. په ۱۲۸۷ ز کال کې مغولو پر برما یرغل وکړ او دغه وړوکی هېواد یې په خپله ستراواکي پورې وتاړه. مغولو ۱۸ کاله پر برما واکمني وکړه، نامتو سیاح مارکوپولو په همدغو کلونو کې د قوبلای خان له پوځیانو سره برما ته رسیدلی او هغه لومړنی اروپایي بلل کیږي، چې برما ته په سفر تللی دی. د مغولو له یرغل وروسته، برما په بېلابېلو برخو ووېشل شوه. د اسلام مبارک دین په پنځلسمه پېړۍ کې برما ته ورسید او د دغه هېواد د لوېدیځو سیمو ځینې خلک مسلمانان شول.

په دویمه نړیواله جگړه کې جاپاني پوځونو پر برما یرغل وکړ او هلته یې هغه لویه لار چې چین ته یې د متحدینو وسلې او مهمات رسول، پرې کړه. د ۱۹۴۲ ز کال تر مې پورې د برما خاوره جاپاني پوځونو ونیوه او د دغه هېواد لپاره یې د ډاکټر باما په مشرۍ حکومت جوړ کړ. د جگړې په وروستیو کلونو کې بېرته چینایي او انگلیسي پوځونه برماته ورسیدل او جاپانیان یې په شاتگ ته اړ ویستل؛ خو داخلي انگلسانو د برما د خلکو د خپلواکۍ غوښتنې د احساساتو مقابله ونه شوه کړای. له همدې امله یې دغه هېواد ته خپلواکي ورکړه او په ۱۹۴۸ ز کال کې یې جمهوري حکومت جوړ کړ. په همدغه کال کې د برما خپلواک دولت د انگلستان له کامنویلت څخه ووت او د ملگرو ملتونو په غړیتوب ومنل شو.

افغانستان او میانمار یا برما خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري. د کابل او یانگون ښارونو تر منځ د وخت توپیر دوه ساعته او د هوا له لارې فاصله ۳۰۶۹ کیلومترو ته رسېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۵۰ |
| € | ۹۱,۲۰ |
| Rp. | ۵۲۳ |
| ₹ | ۱۱۵۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۲ |
| £ | ۱۰۲ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنگه له خپلې رخصتۍ له کاري فشار پرته خوند واخلو؟

ژباړه: امان الله «حنيفي»

د کاري فشار په اړه مو څه اوریدلي دي؟ د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د مې میاشتې په ۲۵مه، د روغتیا نړیوال سازمان، (کاري فشار) خلکو ته (د کاري فشار له اغېزې د انرژۍ مصرفېدو) په نوم د پېژندنې هڅه وکړه. کاري فشار هر وخت کېدای شي د انرژۍ د له منځ تگ یا مصرف باعث شي، چې بیا همدا مصرف او له منځه تگ یې خپله د خسته گۍ او منفي گرایۍ په بڼه ځان راڅرگندوي. په داسې وخت کې سفر کول هغه غوښتنه ده یا د دغه خسته گۍ د رفعه کولو یو لاره ده چې د هرچا ذهن کې راتاوېږي. خو اوس ستونزه دا ده چې ډېر وخت سفر کول یا له کاري چاپېریال څخه لرېوالی هم د ذهني سټریس د پاک له منځه تگ لامل نه کېږي. نو څنگه کولای شو چې خپله رخصتي له ذهني او کاري فشار پرته په خوشالۍ سره تېره کړو؟

د امریکا د ارواپوهانو ټولنې APA په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې په دې اړه ځینې څېړنې وکړې. د هغو څېړنو پایلو ښودلې چې ۲۱ سلنه امریکایان د رخصتۍ په ورځو کې تر کاري فشار لاندې وي او ۲۸ سله هغه یې بیا حتی له کاري چاپېریال پرته هم پر کار لگیا وي. همدې ټکو یا د څېړنو پایلو د دوی توجه جلب کړه.

په رخصتۍ کې کار کول، د هغه کس پر اړیکو او له خلکو سره پر ناسته پاسته ډېر بد اغېز کوي او دا څه یې د دې باعث کېږي چې نوموړی/نوموړې خپل اوس وخت چې د ښه ژوند کولو تر ټولو ښه چانس دی، همداسې پرته له ښې گټې اخیستنې ضایع کړي. دا څه د علمي څېړنو پایلو ثابت کړې دي. د کاري ټایم او استراحت ترمنځ د مرز او حد نه ټاکل؛ د روغتیا او روان لپاره ډېر خطرناک دي. د دې لپاره چې کاري ټیم له خپلو رخصتیو ښه خوند واخلي، ښه دا ده چې مدیر یا رییس هغوی خپلې طبعې ته پرېږدي. داسې نه چې د چکر او سفر لپاره هم هغه نقشه ورکړي. دا مهمه نه ده چې په کاري چاپېریال کې ستاسې کاري پوزیشن او موقعیت څنگه دی او څه کار کوی. لاندې به تاسې ته هغه لارې چارې روښانه کړو، چې له کاري فشار پرته، له رخصتیانو په ښه خوند اخیستلو کې له تاسې سره مرسته کوي.

**۱ـ له رخصتۍ مخکې مو کارونه خلاص کړئ!**

مخکې له دې چې په سفر لاړ شی یا د چکر لپاره خپل ځان برابر کړی، ښه ده چې ستاسې په نشتون کې مو د ټولو ستونزو وړاندوینه وکړی. د راتلونکې لپاره مو اړین ټکي په نظر کې ولری او هغه په کاري چاپېریال کې کنټرول کړئ، څو ستاسې په نشتون کې له هغه استفاده وشي او کارونو کې مو کومه گډوډي رامنځ ته نه شي. له سفر او چکره مخکې مو هغه اصول او نقشه خپلو همکارانو ته وړاندې کړئ، چې د پېښېدونکو احتمالي ستونزو حل پرې وکړي او تاسې خپله رخصتي په خوښۍ سره تېره کړی.

د خپل ځان لپاره مو حد او حدود وټاکئ، څو مو نور ملگري او همکاران پوه شي چې تاسې ته د سفر او چکر پر مهال دوی کوم وخت لاسرسی لري. د بېلگې په ډول، اجازه مه ورکوئ چې رییس، مدیر او یا مو هم ملگري او همکاران په هر وخت کې تاسې ته زنگ ووهي او ستاسې مزاحمت وکړي.

**۲- هر وخت د کاري پیغامونو په فکر کې مه اوسئ!**

زموږ مغز د ټکنالوژۍ په نسبت عجیبې کړنې ترسره کوي. د بېلگې په ډول، هر وخت مو زړه غواړي چې خپل ټلیفون یا هم کمپیوټر روښن کړو او وگورو چې کوم نوی مسیج لرو او که نه. بېلابېلو څېړنو ښودلې چې هر وگړی په عادي ډول د اوسط له مخې ۲۶۱۷ ځلې خپل ټلیفون لمس کوي او په هغه کې فعالي برنامې له نظره تېروي.

د ډیجیټالي نړۍ ډېر مینه وال، په سلو کې ۱۱ هغه یې په ۲۴ ساعتونو کې ۵۴۲۷ ځلې خپل ټلیفونونه چک کوي او گوري چې کوم نوی پیغام لري او که نه. دا څېړنې ښیي چې په سفر او چکر تلل مو هم له دغه عادته ډېر نه شي راگرځولای. داسې فکر کول چې ممکن هره شېبه له کاري چاپېریال څخه کوم پیغام را ورسېږي، له هغه پیغامه په ځو ځو واري ځورونکی دی. خو هغه څه چې په رښتیا دوی ته د چکر او سفر پر مهال ازار ورکوي، هغه د کاري چاپېریال له لوري د پیغام لېږل نه دي؛ بلکې هغه فکر دی چې دوی یې کوي، چې ممکن دوی ته هره شېبه له کاري دفتره کوم پیغام راشي او هماغه وي چې هره لحظه خپل ټلیفون چک کوي او گوري چې داسې څه نه وي پېښ شوي. د سفر او چکر پر مهال داسې فکر کول، له رښتینو پیغامونو په ځو ځو واري ازار رسوونکي دي. هغه پیغامونه چې ستاسې ټلیفون ته هره شېبه راځي، تاسې د چکر او سفر پر مهال ارام ته نه پرېږدي او له کاري چاپېریاله ستاسې د لرېوالي مانع کېږي. داسې هم نه ده چې تاسې د سفر او چکر پر مهال ټلیفون په کور کې پرېږدی، دا بیا تر هغه ډېر درته ازار رسوونکی دی. د دې لپاره چې ښه استراحت وکړی، باید له کاري چاپېریاله لرې او د هغه په اړه هېڅ فکر هم ونه کړئ. خو که تاسې برعکس خپل ذهن په کاري چاپېریال کې پرېږدی او هره لحظه له خپلو همکارانو احوال واخلی، ممکنه نه ده چې تاسې کې دې د چکر وهلو نوره شیمه پاتې شي او یا دې تاسې له هغه خوند واخلي.

هرڅوک د سفر او چکر پر مهال له کاري چاپېریاله د لرېوالي لپاره خپله لار لري. د بېلگې په ډول، ځینې کسان ټلیفون کور پرېږدي او نه غواړي چې د سفر مهال یې مزاحمت وکړي. یوازې داسې یو ټلیفون ورسره اخلي، چې د اړتیا پر مهال پرې اړیکه ټینگه کړي. ځینې نور بیا ټلیفون له ځان سره اخلي، خو په ورځ کې یو ځل خپل اکونټونه چک کوي او نور د ورځې او شپې په اوږدو کې له ټلیفون او د اکونټونو له چک کولو سره اړیکه پرې کوي.

**۳- تر ممکنه حده یو طبیعي او پراخ ځای ته لاړ شئ!**

طبیعت د سټریس او خسته گۍ په لرې کولو کې یو خاص اغېز لري. د بېلگې په ډول، که د ورځې په اوږدو کې ناچاره وی، چې تاسې دې له مېز او کمپیوټر څخه لرې شی، د رخصتۍ پر مهال طبیعي ځای ته تلل تر ممکنه حده ستاسې سټریس له منځه وړي. هغه مقاله چې د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په frontiers in psycology مجله کې خپره شوې ده، ښیي چې د خوشاله ژوند، مثبت ذهن او طبیعت ته تللو ترمنځ محکمه اړیکه شته. نو طبیعت ته تلل مو پر روان او ورځنیو کارونو پوره پوره ښه اغېز کوي، که مو له وسه کېږي، د ورځې په پای او یا هم په اونۍ کې حتماً یو طبیعي ځای ته لاړ شئ. د امریکا د ارواپوهانو ټولنه طبیعت ته پر تلو تر هرڅه ډېر ټینگار کوي، دوی وایي، تاسې د خپلې ارامۍ او سټریس د لرې کولو لپاره طبیعي ځایونو ته لاړ شئ، له طبیعي گلانو، اوبو، ونو، بوټو او اسمان څخه خوند واخلئ. له ډیجیټلي نړۍ او کاري چاپېریال سره مو اړیکه پرې کړئ، هلته کېنئ، وگرځئ او ان د ځینو شیانو لکه، بوټو، گلانو، ډبرو او د سیند اوبو له لمس کولو څخه هم خوند واخلئ.

# حکمتیار: طالبان دې په ښکاره ډول ووايي چې پر ټاکنو باور لرو

د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار په پاکستان کې د افغانستان د سولې کنفرانس ته په وینا کې ویلي، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو هرکلی کوي او طالبان باید په واضح ډول ووايي، چې پر ټاکنو باور لري.

د حکمتیار دا خبرې داسې مهال دي، چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد تازه ویلي، د جون په ۲۹مه په قطر کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو نوی پړاو پیلېدونکی دی.

له تېرو دوو ورځو راهیسې په پاکستان کې د افغان سولې په تړاو کنفرانس پیل شوی، چې ځینو افغان مشرانو او سیاستوالو هم پکې گډون کړی دی.

د دغو کډونوالو له ډلې د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار په دغه کنفرانس کې ویلي، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ مذاکرات گټور دي، خو کافي نه دي.

هغه ویلي: «موږ د دې ملاتړ کوو چې دا مذاکرات پیل شوي. طالبان باید په صریحو الفاظو ووايي چې موږ پر انتخاباتو باور لرو او د انتخاباتو له لارې قدرت ته په رسېدلو باندې یقین لرو او د دې ژمنه کوو چې نورې لارې به نه ازمایو».

په پاکستان کې د افغان سولې په روان کنفرانس کې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند حنیف اتمر هم گډون کړی دی. اتمر امریکا غږ ته ویلي: «د طالبانو او امریکا ترمنځ د مذاکراتو سره جوخت باید یوه موازي پروسه پیل شي چې د افغانستان د راتلونکې لپاره طالبان او افغانان د اوربند او د سولې د یو جامع موافقې پر سر خبرې وکړي».

بلخوا د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي دغه کنفرانس ته ویلي، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو خرابوالي زموږ د گډو دښمنانو کار دی. هغه دې دواړو هېوادونو بې باورۍ ته په اشارې ویلي: «پر یو بل باندې د ملامتیا اچولو لوبې هېڅ یو اړخ ته گټه نه ده رسولې، دا ډېره مهمه ده چې له دغه منفي وضعیت نه ووځو».

په دغه غونډه کې نږدې ٦۰ افغان مشرانو او سیاستوالو گډون کړی، چې پکې د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار، د جمعیت اسلامي گوند اجرایوي مشر عطامحمد نور، احمد ضیا مسعود، عبدالطیف پدرام، د اجرایه ریاست دویم مرستیال محمد محقق، د سولې شورا مشر کریم خلیلي، سیدحامد گیلاني او د جنرال عبدالرشید دوستم په مشرۍ د نوموړي استازو برخه اخیستې ده.

که څه هم پخوانی ولسمشر حامد کرزی هم دې غونډې ته بلل شوی و، خو د ښاغلي کرزي دفتر ویلي چې د وخت د کموالي له امله نوموړي په دغه غونډه کې گډون ونه شو کړای.

# لا هم د ولسي جرگې د رییس ټاکلو پر سر رامنځ ته شوې ستونزه نه ده حل شوې

د ولسي جرگې د غړو ترمنځ د تېرې چهارشنبې د ورځې له نښتې وروسته، دوې ورځې کېږي چې د دغې جرگې ډېری غړي اوزگار دي او په هېڅ یوې اجنډا ډله ییز بحث نه کوي.

په ولسي جرگه کې د هرات ولایت استازي حبیب الرحمن پدرام رسنیو ته ویلي، د شنبې او یکشنبې په ورځ کې اکثره وکیلان په خپلو شخصي خبرو بوخت وو او پر هېڅ موضوع یې خبرې نه دي کړې. نوموړي ویلي: «د تېرې اونۍ په پرتله چې له تاوتریخوالي ډکه وه، دا دوه ورځې کراري وه، هېڅ اجنډا نه وه تنظیم شوې او وکیلان په خورو ورو خبرو بوخت وو، د دغه وضعیت دوام د خپلواکو وکیلانو لپاره د منلو نه دی».

دغه څرگندونې په داسې حال کې کېږي چې د یادې جرگې غړې مریم سما ازادي راډیو ته ویلي، ۱۰۲ وکیلانو د نوي رییس د ټاکلو په هدف د نویو څېرو تر منځ د دویم دور ټاکنو غوښتنه کړې ده.

د تېرې اونۍ د چهارشنبې په ورځ د وکیلانو ترمنځ اختلاف په فزیکي نښته واوښت، چې د جرگې د رییس مېز او څوکۍ په پکې مات شول او ځینې وکیلان په کې ټپیان هم شول.

په ورته وخت کې داسې څرگندونې هم کېږي، چې د بې طرفه، کمال ناصر اصولي او میر رحمان رحماني د پلویانو په گډون یو پلاوی جوړ شوی، چې د «یوې جنجالي رایې» پر سر رامنځته شوی اختلاف پای ته ورسوي.

دغه جنجالي رایه یو اضافي ټکی لري، چې د کمال ناصر اصولي د پلویانو په خبره، باطله ده. که دغه رایه د رښتینې رایې په توگه ومنل شي، د میر رحمان رحماني د بریالي کېدو پر سر اختلاف به له منځه لاړ شي.

د ولسي جرگې بل غړي حمیدالله توخي رسنیو ته ویلي، تمه ده چې ۲۵ کسیز پلاوی روان اختلاف پای ته ورسوي. نوموړي زیاته کړې: جنجالي موضوع چې هغه یوه رایه ده او ستونزه رامنځته شوې، هیله مند یم چې دغه پلاوی به وتوانېږي چې د حل لار ورته پیدا کړي، چې تاوتریخوالی پای ته ورسېږي، کوم کسان چې په دغه پلاوي کې شامل دي، ټول مصلح کسان دي، هیله ده چې دواړه لوري یې پرېکړه ومني».

د دغه جرگې بل غړي میرویس یاسیني ویلي، د تېرې اونۍ د فزیکي نښتو اثرات په کمېدو دي او خوشبیني شته چې په راتلونکو ورځو کې د جرگې غړي دسته جمعي بحثونه پیل کړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily





المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ دریيمه | د ۲۰۱۹ د جون ۲٤مه | دریيم کال | ۳۹۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۵ | ٤۰ | ۳۷ | ۳۵ | ۲۸ |
| ۱۲ | ۲۰ | ۲۳ | ۲۲ | ۲۳ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰٤:٤۱ | ماسپښين ۱۱:۵۶ | مازیګر ۰۳:٤۳ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۶


## نړۍ



# ټرمپ: پر ایران به ډېر ژر نوي بندیزونه ولګوو


۳


## ترکیه: انقره به د S-400 دفاعي سیستم په پېرلو سره ناټو پرې نږدي



د ترکیې دفاع وزارت ویلي، د S-400 دفاعي سیستم په پېرلو سره به له ناټو ونه وځو.

د ایسنا خبري اژانس په خبره، ترکي چارواکو ویلي، چې دوی په ناټو سازمان کې خپل مسوولیت پر ځای کړی او د دغه دفاعي سیستم په رانیولو سره به له ناټو ونه وځي.

د دغه هېواد دفاع وزیر آکار ویلي: «موږ د F35 جنګي الوتکو له پروګرام سره د دغه سیستم له تړاو ورکولو سره سخت مخالف یو، موږ په دغه پروژه کې له نهو هېوادونو سره شریک یو».

آکار زیاته کړې: «موږ له ټولو متحدانو په خاص ډول له امریکا څخه غواړو چې د ګډ مسوولیت له مخې چلند وکړي او له یو اړخیز برخورد څخه ځان وساتي».

دا په داسې حال کې ده، چې له روسیې د S-400 دفاعي سیستم له پېرلو وروسته، د امریکا او ترکیې ترمنځ اړیکې ترینګلې شوې دي.

آکار د هغه نظامي کسانو د سزا په اړه هم رسنیو ته ویلي، چې د ۲۰۱٦ ز کال په ناکامه کودتا کې یې لاس درلود. هغه ویلي، دا خاینین د سختې جزا لایق دي، موږ به هغوی پر ابدي بند محکوم کړو. نوموړي د عراق په شمال کې د ترکیې عملیات د ترویستانو د له منځه وړلو لپاره ښه اقدام بللی او ویلي یې دي: «موږ د ترویستانو د له منځه وړلو په لټه کې یو، موږ غواړو چې خپل هېواد له ترویستانو پاک کړو، سوله او امنیت یو ځل بیا خپل هېواد ته راوګرځوو. موږ به خپل سرحد ته نږدې ترویستان پرې نږدو».

## امریکا له شمالي کوریا سره د دویم پړاو خبرو تر ماتې وروسته دغه هېواد ته تازه لیک استولی دی



د شمالي کوریا رسنیو راپور ورکړی چې د دغه هېواد مشر کیم جونګ اون د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ څخه یو«ښه لیک« تر لاسه کړی دی.

سره له دې چې د دغه لیک د جزیاتو په تړاو د شمالي کوریا رسنیو ډېر څه نه دي ویلي، خو د دغه هېواد مرکزي خبري اژانس ویلي، کیم د دغه لیک له منځپانګې ډېر خوښ دی.

د شمالي کوریا مرکزي خبري اژانس همدارنګه ویلي، کیم جونګ اون، د ډونالډ ټرمپ د سیاسي قضاوت او زړورتیا ستاینه هم کړې ده، خو سپینې ماڼۍ تر اوسه په دې تړاو څه نه دي ویلي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او شمالي کوریا د مشرانو ترمنځ لومړنۍ لیدنه تېر کال په سنګاپور کې وشوه، چې پکې له اټومي وسلو د کوریا د ټاپو وزمې پر پاکولو توافق وشو او په مقابل کې یې امریکا ژمنه وکړه، چې پر دغه هېواد لګېدلي اقتصادي بندیزونه به لرې کوي، خو له کیم جونګ اون سره د ولسمشر ټرمپ دویمه لیدنه د روان میلادي کال د فبرورۍ په ۲۷مه وروسته له هغې له ماتې سره مخ شوه، چې دواړه مشران خپلو کې هېڅ توافق ته ونه رسېدل.

د امریکا او شمالي کوریا ترمنځ اړیکې دویم ځلي وروسته هغه مهال د ترینګلتیا پر لور رواني شوې، چې پیونګ یانګ د توغندیو ازموینه یو ځل بیا پیل کړه.

## افغانستان به خاطر مبارزۀ کمرنگ علیه قاچاق انسانی در جایگاه دوم قرار گرفته است



وزارت امور خارجۀ امریکا، طی گزارش سالانه، افغانستان را به سبب عدم اجرای فعالیت‌های چشمگیر در عرصۀ قاچاق انسانی، به درجه دوم تحت نظارت قرار داده است.

وزارت امور خارجۀ ایالات متحدۀ امریکا، درعرصه جلوگیری از قاچاق انسانی، برای ارزیابی تلاش‌های داخلی و کارکردهای دولتی شماری زیاد کشورها، میکانیزم ویژۀ درجه بندی دارد که به اساس همان درجه بندی، در برج جون هر سال، گزارش سالانه اجراآت این کشورها را به نشر می‌رساند.

به اساس گزارش متذکره، در سال ۲۰۱۷ و ۲۰۱۸ میلادی افغانستان به درجه دوم قرار داشت؛ اما نظر به گزارش امسال، افغانستان به درجه دوم نظارت تنزیل نموده است.

به اساس میکانیزم متذکره، کشورهایی در درجه دوم نظارت شامل می‌شوند که شمار متضررین ارشد قاچاق انسانی در آن بلند رفته و یا روبه افزایش باشد.

در گزارش امسال وزارت امور خارجه درج است که افغانستان در راستای مبارزه علیه قاچاق انسانی، کارهای قابل ملاحظه انجام داده؛ اما معیارهای اساسی قانون حفاظت متضررین قاچاق انسانی را تکمیل نکرده است.


به اساس این گزارش، افغانستان پنج نهاد را ایجاد نموده تا جلو قاچاق انسانی، طور اخص از جلب و جذب اطفال در صفوف نیروهای امنیتی جلوگیری نماید؛ اما بازهم شمار زیادی اطفال در صفوف نیروهای امنیتی گماشته می‌شوند که در بدل نان و پول، استفاده جنسی از آنها صورت می گیرد.

در گزارش وزارت امور خارجه امریکا اتهام وارد شده که بسا مسئولین افغان، میان قاچاق انسانی و قاچاق عمومی تفکیک کرده نمی توانند و در این راستا بیشتر بر انجوها و مؤسسات خارجی اتکا می‌شود.

از جانب دیگر محمدحسن سلیمی عضو سکرتریت مبارزه علیه قاچاق انسانی در وزارت عدلیه افغانستان، به پژواک گفته است: «نمی دانم که چرا بار دیگر افغانستان به درجه دوم نظارت تنزیل یافت، ما در عرصه مبارزه علیه قاچاق انسانی فعالیت‌های قابل ملاحظه انجام داده ایم».

## ژوند

## اومېګا (۳) غوړي د کلمو د سرطان خطر کموي



اومېګا ۳ غوړي چې په انګریزي ژبه کې ورته omega ۳ fatty acids وايي او د کیمیاوي فورمول له مخې غیرمشبوع غوړي دي، د انسان د روغ وجود لپاره ضروري مواد ګڼل کېږي، خو دا مواد د انسان په وجود کې نه تولیدیږي، بلکې باید د خوړو له لارې واخیستل شي.

اومېګا ۳ غوړي د زړه د رګونو ساتونکي دي، وینه نرۍ کوي، د وجود ترګلیسراید کلیسترول او د وینې فشار ټیټوي.

همدارنګه اومېګا ۳ غوړي په ماشومانو کې د عصبي سیستم د ودې، د حافظې د قوي کېدو او د بدني روغتیا لپاره اړین او ګټوره ماده ده. په څېړنو کې ښودل شوي ده چې اومېګا ۳ غوړي د پروستات، مثانې، پانقراس او د کولمو د سرطان خطر کموي.

د واشنګټن پوهنتون په یوه طبي مرکز کې د وایلایم ستنسون له خوا پر ۱۸ ناروغانو باندې یوه څېړنه تر سره شوې، په دې څېړنه کې ښودل شوي چې اومېګا ۳ غوړي په کولمو کې د Leukotriene B٤ تاواني ماده شپېته سلنې ته راکموي.

د اومېګا ۳ غوړیو اصلي او غني منابع د کب غوښه ده، البته اندازه یې په بېلابېلو کبانو کې توپیر لري. کب چې څومره زوړ او غټ وي، د غوړیو مقدار یې زیات وي، همدارنګه چارمغز هم د اومېګا ۳ غوړیو له منابعو څخه شمېرل کېږي.

## ذهن مو له سره پروګرام کړئ!



زموږ ذهن کمپیوټر ته ورته دی او د پروګرام کولو ښه یې بیا زموږ په کړنو او افکارو پورې تړلې ده. تاسو کولی شی د نړۍ ګړندي، قوي او وروستي ماډل کمپیوټر چې د خورا لویې حافظې درلودونکی وي، په خپل اختیار کې ولرئ. خو که پر همدغه کمپیوټر یو نامناسب سافټویر نصب کړئ، کېدای شي ښه کار ونه کړي او سالمه ګټه ترې وانه خلی. دا چې موږ د ټکنالوژۍ په زمانه کې ژوند کوو، کمپیوټر لرو، نو هرو مرو د کمپیوټر له ویروس سره هم اشنا یو. ویروس کولی شي د نړۍ تر ټولو غوره کمپیوټر ته هم ځان ورسوي او سافټویر یې تر برید لاندې ونیسي. ورو ورو د کمپیوټر سرعت کمېږي ان دا چې داسې یوې مرحلې ته رسېږي، چې بیا نه شی کولی په کمپیوټر کې شته فایلونو ته لاسرسی پیدا کړی. دا ځکه که ویروس ډېر قوي وي، هغه ده چې ټول فایلونه مو له منځه وړي. دا ستونزه او ضعف ستاسو په کمپیوټر کې نه، بلکې اصلي ستونزه ستاسو د کمپیوټر په سافټویر کې ده، نه په هارډویر کې. ستونزه هغه وخت منځ ته راغلې ده چې تاسو د خپل کمپیوټر سافټویر بدل کړی او یا مو هم ناولی فلش ورته وصل کړی دی.